


# د مارکسیزم ژوند بخښونکي حُکمونه

ژباړه او زیاتونه: آزاد افغان



انقلابونه د تاریخ مخ ته وړونکي دي!

د نووستي خپرندویه ارګان مسکو، ۱۹۸۶

# د مارکسیزم ژوند بخښونکي حُکمونه

«انقلابونه د تاریخ مخ‌ته وړونکي دي!»

ژباړه او زیاتونه: آزاد افغان

لومړی چاپ: د نووستي خپرندویه ارګان مسکو، ۱۹۸۶

## ملگرو!

یاد کتاب یوازي د تاریخي پېښو بیان نه، بلکي د گڼو انقلابونو ډولونه، د پېښېدو وخت او ځای؛ لنډه دا چي د انقلاب تیوري او تاکتیک په ډېر ساده او روانه ژبه او ژوندۍ بڼه ستاسو مخ ته ږدي. هماغسي چي لنین وایي: له انقلابي تیورۍ پرته انقلابي سازمان نه شته، نو په دې وړوکې تیوریکي ټولگه کي د انقلابونو مضمون او شکل دواړه د مارکسیستي-لنینستي علمي نړۍلید له مخي په داسي ډول توضیح شوي دي، چي د انقلابي د لارې مخکښانو او نویو لوستونکو ته په عمومي نسبي چوکاټ کي علمي مانا ورکونکې غناء ور په برخه کوي. تر ډېره بریده هڅه شوې ده، چي د دې کتاب د موضوع په ترتیبولو کي د مارکسیزم له کلاسیکو او نویو غني شویو آثارو څخه هم استفاده وشي.
انقلابونه د تاریخ مخ‌ته وړونکي (لوکوموتیف) نومي کتاب د ژباړې تر څنگ د یادې موضوع د لا غناء په موخه د لنین، ستالین (مسائل لنینیسم)، الف-کب (سیاسي او ټولنیز گړنې) او د خلقي مبارزې الفباء نومي تیوریکي آثارو څخه هم پراخه استفاده شوې ده.
خپله لیکنه د دې په ویلو سره پای ته رسوم، چي: یو انقلابي اول باید مغز مسلح کړي، بیا لاس!!!

په درنښت

آزاد افغان

# پیل

هغه خبرې چې د دې کتاب عنوان پکې نغښتې دي، په کارل مارکس پورې اړه لري، چې نوم یې د فردریک اِنګلس په څېر د ستم او زبېښاک په وړاندې د انقلابي مبارزې په تاریخ کې د تل له پاره خوندي شوی دی. دا خبرې ناڅاپې نه دي ویل شوي، بلکې د لومړي ځل له پاره دا فورمول‌بندي په ډېره ځیرکتیا سره، چې د زیارکښانو څو کلنه آزادي‌بخښونکې تجربه پکې را نغاړل شوې ده؛ د مارکس په یو لړ مقالو کې، چې د آلمان د «نویه راینیشه تساتیونګ» نومې مترقي مجلې کې خپرې او بیا د ۱۸۴۸- ۱۸۵۰ کلونو تر منځ د یو کتاب په بڼه، چې «په فرانسه کې طبقاتي مبارزې» په نوم یادیږي، خپور شو.

هغه وخت نه یوازې په فرانسه کې، بلکې د نړۍ په ډېریو هیوادونو کې ټولنیز کړکېچونه او ټکرونه د خوټېدا په حال کې ول. د ۱۹م. پېړۍ په دویه او دریمه لسیزه کې ټوله اروپا انقلابي څپو نیولې وه. اطریش، ایټالیا، هنګري، چِک، ملداویا، فرانسه، آلمان او څو کاله وړاندې بلژیک، هسپانیه، پولېنډ او سویس د طبقاتي مبارزې په تودو ډګرونو واوښتل.

د زیارکښانو پرګنې، ځوانه کارګره طبقه، بزګران او د زبېښاکګرو او ستمګرو ځمکوالو ستره برخه یې لاندې کړې وه او هغه وو، چې دې انقلابي څپو د ځواني بورژوازي په وړاندې پاڅون وکړ، خو د پاڅون کوونکو د عادلانه غوښتنو سربېره هم د دوی مبارزه له ماتې سره مخ شوه.

د ۱۸۴۸- ۱۸۴۹م. کلونو تر منځ یې د انقلابي څپرکو پرته د انقلاب د ماتې عنوان خپل کړ، خو مارکس چې تل یې د پدیدو ژورو ته کتل او دا وړتیا یې لرله، تر څو ماهیت یې وپېژني؛ خپلو خبرو ته دوام ور کوي او وایي: په دې ماتو کې انقلاب نه، بلکې پخواني زاړه دودونه نابود شول... وروسته مارکس ژورې پایلې ته رسیږي، هغه دا چې **انقلابونه مخ په وړاندې ځي او خپله لار نه یوازې په بریاوو، بلکې په ماتو یې هم پرانیزي.** دا مطلب د بورژوازي او وړې بورژوازي سیاستوالو او مؤرخینو نه شوای درک کولای. د هغو له پاره هر ډول ماتې او بریا یوازې د ماتې او بریا مانا لرله او بس! خو مارکس په دې ماتو کې د زیارکښانو د راتلونکي بریا زنې لیدل، چې په پښو درېدل او ځواک یې موند... مارکس او د ده همفکرو په زیارکښانو کې ټولنیز ځواک لیده، چې یوازې همدا ځواک کولای شي، د زیارکښانو د واقعي آزادۍ ریاست په غاړه واخلي. مارکس داسې څه وویل، چې له هغه وړاندې چا یې د ویلو وړتیا نه لرله: «انقلابونه کله کله د خلکو په ګټه نه تمامیږي!».

ولې بیا هم انقلابونه د ټولنیزو او سیاسي پرمختیاوو خوځنده ځواک وي او دي. **له همدې امله مارکس انقلابونه د تاریخ لوکوموتیف ونومول.**

## ټولنيز انقلاب څه ته وايي؟

له مارکس او اِنګلس وړاندي د عملي سوسياليزم بنسټ ايښودونکو، د مختلفو هيوادو خلکو، متفکرينو او سياسي شخصيتونو هڅه کړې وه، تر څو دې پوښتنې ته ځواب ووايي، چي ټولنيز انقلاب ياني څه؟ له هغې ډلې څخه د ۱۸م. پېړۍ د فرانسوي فيلسوف او ليکوال «ولتېر» نوم اخلو. نوموړي د انقلاب اصطلاح د ډېرو مفاهيمو له پاره وکاروله، لکه طبيعي آفت، دولتي کودتا او هم د نويو افکارو د را څرګندېدو په مانا...

«فرانسوا ګيرو» او «اکويسټ مينيه» نومې مؤرخينو په انقلاب کي د زېږښونکو او زېږېدونکو تر منځ د طبقاتي مبارزې انعکاس وليد. مارکس او اِنګلس د دې مؤرخينو له آثارو ډېره مننه وکړه او تر څنګ يې په بورژوازۍ پوري د هغو تړاو يا هم د وخت په بورژوازي چاپېريال کي د هغوی شتون ته اشاره وکړه، ځکه هغوی ټولو د بورژوازۍ طبقاتي مبارزه د برۍ وروستی پړاو باله. اوس هم ترې نوي تعبيرونه وړاندي کيږي، خو دا تعبيرونه يوازي دا موضوع پېچلې کوي؛ په داسي حال کي چي له ډېره پخوا دا مسئله مارکس، اِنګلس او بيا لنين په علمي ډول حل او وړاندې کړې ده.

د امريکايي ټولنپوه (ډ. يوډر) د څرګندونو له مخې د انقلاب ګڼې ماناوې دا شونې کوي، چي د انقلاب کلمه ګڼو پديدو او پروسو ته وکارول شي يا نسبت ور سره ور کړل شي او له هغو نه د هغه څه په وړاندې، چي يو انقلابي يې دعوه کوي او ورته رسيږي، استفاده وکړو.

انګليسي مؤرخ (پ. کلورټ) د انقلاب ۳۷۰ ماډله وشمېرل. دا ډول ماډل جوړونه تحميلي او داسي تصور زېږوي، چي د انقلاب **نه‌پوهېدونکې** ټولنيزه پديده له **هيڅ** څخه زېږي او د خپلو ځانګړو قوانينو مطابق وده کوي، چي د انسان له وړاندوينې او واک څخه بيرون ده.

آيا دا سمه ده؟

د دې نظرياتو د سموالي او ناسموالي په موخه اړ يو، چي تېرو تاريخي پېښو ته مخ کړو...

د ۱٦۴۰م. کال د نومبر پر ۳مه د لومړي کارل په دستور د لندن د وسټمنسر په ماڼۍ کي پارلمان پرانيستل شو. خو دې پارلمان د مستبد پادشاه له خوا د ټاکل شوي مودې خلاف د ماڼۍ له پرېښېدو ډډه وکړه او ۱۳ کاله يې خپله دنده تر سره کړه. هغه وو، چي په تاريخ کي اوږد پارلمان ونومول شو.

علت يې څه وو؟

تصادفي لاملونه، چي په درسي-تاريخي کتابونو کي توضيح شوي دي؟ که د پارلمان غړي سرکښه ول؟ نه اول نه دوهم! مطلب دا دی، چي اوږد پارلمان په حقيقت کي د انګلستان د بورژوازي انقلاب، چي په ۱٦۴۰م. کال کي پېښ شو، په تقنينه بنسټ واوښت. دا انقلاب ناڅاپي (تصادفي) نه وو، بلکي ځانګړي اقتصادي، ټولنيز او سياسي ژور لاملونه يې درلودل، چي عبارت دي، له:

انګلستان لومړنی هیواد وو، چې د پانګوالۍ لاره یې خپله کړه. په ۱٦م. پېړۍ کې د فیوډالي تولید پر ځای نوي ټولنیز کیفي تولیدي شکلونو تشکل وموندې. لومړنۍ فابریکې یانې موسسې را منځ ته شوې او یو شمېر کارکوونکو پکې زیار ایسته. دا موسسې د کاري وېش په اساس ورغول شوې. د کار ګټه یې ډېره لوړه وه، نو ځکه نظر اروپایي هیوادو ته د انګلستان له پاره یې له حده ډېر اقتصادي سهولتونه او ورتیاوې وړاندې کولې. [هلته د اروپا ۸۰ سلنه سکاره استخراجیږي، د ۱۷م. پېړۍ تر نیمايي پورې د ۱٦م. پېړۍ په نسبت د تېرو را ایستنه ۳ ځله، د سربو، قلعي او مسو تولید ۸ برابره زیات شوی دی].

په اقتصادي اړخ کې بدلونونه د اړینو ټولنیزو بدلونونو لامل وګرځېدل. نوې طبقه یانې بورژوازي وزېږېده. بورژوازي د نویو کلیدي موضوعاتو په تر لاسه کولو سره د فابریکو لویه برخه خپله کړه. د تېرې ورځې د مفلسو بزګرانو او کسبګرو له منځه هم نوې طبقه، چې پخوا یې څرک نه لیدل کېدی، د اجیرو کارګرانو یا پرولتاریا په نامه را وخوټېدل. د دوی یوازنی تړون کاري ځواک وو. هغوی د دې له پاره چې له لوږې مړه نه شي، اړ ول، چې خپل فزیکي ځواک د خپل وخت د نوي تخنیکي تولیدي وسایلو؛ یانې په خاوندانو وپلورې. پیسه لرونکو اجاره‌دارو چې په چټکۍ سره مالداره کېدل، پخواني ځمکوال اشراف یې په لویه کچه شا ته پرېښودل. د دوی او کلیوالو تر منځ واټن ورځ تر بلې پراخېده او دهقانان یې د یوې طبقې په حیث له ورکاوې سره مخ کول. په دې ډول د ۱۷م. پېړۍ په انګلیسي ټولنه کې ټولنیز طبقاتي تضادونه د کار او پانګې تر منځ له یوې خوا، د

بورژوازي او فیوډالي اشرافو تر منځ، چې د شاهي ځواک له ساتنې څخه ډاډمن ول، خو د بورژوازي د ودې په وړاندې درېدل، له بل لوري را وزېږېدل.

په هغه تاریخي مرحله کې د دویم ګروپ تضادونه پراخ شول او پایله یې دا وه، چې د بادشاه کار ستیوارټ او پارلمان تر منځ د علني ټکر لاملونه شول. بورژوازي قصد لاره، چې په هره بیه وي، خپل اقتصادي ځواک د سیاسي نفوذ په مرسته لا نور هم ټینګ کړي. د دې شخړې په جریان کې بادشاه یو په بل پسې نوي طرحې وړاندې کولې.

د وخت اوږد پارلمان شاهي مالیه، چې د صنعتي ودې مخنیوی یې کاوه، فسخه او شاهي محکمې او کلیساوې، چې د فوق العاده واک څخه برخمنې وې؛ لغوه کړې. نوی قضایي سیستم یې جوړ او اجرائیه ځواک یې پارلمان ته مسؤل کړ. په حقیقت کې پارلمان په پړاویزه ډول د هیواد ځواک او واک په خپل لاس کې ونیو.

**پوښتنه را ولاړېږي، چې آیا دا هر څه پرته له شرطه؛ یاني د پرګنو د ملاتړ ماسېوا، چې د فیوډالي ظلم ورته د زغملو نه وو، تر سره شول؟**

**نه هیڅ کله هم نه!**

ځکه همدا اولسونه ول، چې د ۱۶۴۲م. کال په جنوري کې یې د بادشاه د مخالفینو د بندي کولو هڅه ناکامه کړه. د بادشاه او فیوډالانو په وړاندې د بورژوازي په وسله‌واله مبارزه کې همدوی رغنده رول ولوباوه. په جنګي عملیاتو

کي د خلکو ګډون شاهي نظامي ځواک دړې وړې کړ او خپله بادشاه، چي د نوموړي وجود کي مستبد نظام تجسم موندلی وو، په دار وځړول شو. د فیوډالي ګوند په دې ماتې بورژوازي د بریا له مېوې څخه برخمنه شوه. بورژوازي د انقلاب له سطحې وېره لرله او نه یې غوښتل، چي انقلاب نور هم پراخ شي. سیاسي کچې او اقتصادي واک ته د رسېدو سره سم دم یې د خلکو د پرګنې له ځانه لیري کړلې.

د خلکو په وضعیت کي ډېر لږ بدلون تر سترګو کېده او د دوی له کاره د ګټې اخیستنې بڼې بدلون وموند؛ یاني فیوډالي زبېښاک په پانګوالي زبېښاک واوښت. د پانګوالو له خوا د ځمکو لاندي کولو له امله دهقانان د یوې طبقې په حیث له ورکېدا سره مخ شول.

بورژوازي چي د انقلاب په لومړیو کي د خلکو فیوډالي ضد پاڅونونو، څرګندونو او هڅو څخه په خپله ګټه ملاتړ کاوه، د انقلاب په پای کې د اشرافو سره جوړجاړي ته ورسېده او په ۱۶۶۰م. کال کي یې د ځینو محدودیتونو په وضع کولو سره د ستیوارټ سلطنتي رژیم را منځ ته کړ.

خو دا ټول د انګلیسي بورژوازي سیاسي انقلاب ارزښت له منځه نه وړي. دې انقلاب د اروپا او امریکا د لویو وچو پر راتلونکي تاریخ ډېر اغېز وغورځاوه. همدارنګه د ایرلېنډ او سکاټلېنډ راتلونکی، چي په تمامه مانا د انګلستان په دولت او پانګوالۍ پوري تړل شی وو، وټاکه او د امریکا په شمال کي د دوی په مستعمرو

کي د پانګوالۍ مناسبات، چي څو ځله تر فیوډالي مناسباتو مترقي ول، ترویج شول.

یو بل مهم ټکی هم باید روښانه شي؛ هغه دا چي انګلیسي انقلاب په پانګوالي شرایطو کي د نوي طبقې یاني پرولتاریا د ودې او یووالي لامل وګرځېد. په راتلونکي کي به هماغه کارګران د راتلونکي انقلاب پوځ جوړوي، چي بورژوازي نه، بلکي سوسیالیستي انقلاب به وي او د پانګوالۍ د بنسټونو په له منځه تګ سره به له زېبښاکه پرته د نوي اقتصادي ټولنیزو سیستم لاره پرانیزي.

**تر هر څه وړاندي یو ټولنیز انقلاب له هر ډول وړو بدلونونو، چي یوازي د ژوند بېلي بېلي برخي، لکه سیاسي او دولتي په بر کي نیسي او د پخواني ټولنیز- اقتصادي جوړښت د بدلون لامل نه ګرځي، ډېر توپیر لري. ټولنیز انقلاب د ریښوي بدلون په حیث د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کي؛ له سیاست او اقتصاده نیولې بیا تر ایډیالوژۍ پوري خپل اغېز لري، ځکه د زاړه، وراسته نظام د پرځېدا او نوي ټولنیز رژیم د جوړښت لامل ګرځي.**

مارکس لیکي، چي: «**هر انقلاب زړه ټولنه ویجاړوي، نو ځکه ټولنیزه بڼه لري. هر انقلاب پخوانی ځواک له پښو غورځوي، نو ځکه سیاسي اړخ لري!**».

روښانه ده، چي د هر انقلاب ستني او محتوا په هغه ټولنیز اقتصادي نورم پوري تړلې ده، چي یاد انقلاب یې د بدلولو هوډ لري او همدارنګه د هغه نظام په څرنګوالي اړه لري، چي لاره ورته هواروي. په دې باب په لنډ ډول ویلای شو،

چې «**د يو انقلاب محتوا په هغو تضادونو پورې اړه لري، چې دا انقلاب د هغو د حل په موخه تر سره شوی دی**».

مارکس د ټولنيز انقلاب محتوا په دې خبرو ټاکي: «د ودې په يوه ټاکلې مرحله کې د ټولنې مؤلده ځواکونه د شته توليدي مناسباتو، چې د توليدي مناسباتو حقوقي استازيتوب کوي، سره په تضاد کې را ځي. ياد مناسبات د مؤلده ځواکونو د ودې مانع گرځي. په دې وخت کې د ټولنيز انقلاب دوران را رسيږي. هر څومره چې ټولنيزه وده پراخه او لوړه وي، په هماغه کچه کوم مسايل چې د انقلاب په جريان کې حليږي، پېچلي، پراخ او محتوا يې ژوره وي، لکه نن سبا چې پانگوالې ټولنې ډېره وده کړې او په نويو بڼو سره ټولنه تر ښکېلاک او زبېښاک لاندې را وستې او را ولې يې!».

د بشري ټولنې په پخوانيو مرحلو کې، مثلاً له مرييتابه څخه فيوډاليزم ته د تېرېدو په وخت کې انقلاب پر خپل سر وو. له منطقي اولسي غورځنگونو او يا څو تنو څخه متشکل وو، مثلاً د سپارتاک په مشرۍ د پخوانيو رومي غلامانو پاڅون، چې د اينين جزيره يې ټوله په بر کې نيوله، چې په داخلي شخړو او د بادارانو په ضد واوښت.

له فيوډاليزم څخه پانگوالي ته د ټوپ په وخت کې انقلاب ملي ځانگړنه خپله کړه. د گوندونو او ټولنيزو سازمانونو شعوري کړنې له ځانه ډېر اغېز ښندي او د سازمان ور کولو اصل را منځ ته کيږي.

مخکي مو ترې یادونه وکړه، چې: په انګلیسي بورژوازي انقلاب کي د مشرۍ رول د پارلمان بورژوازي اړخ په غاړه واخیسته او د فرانسې په ستر بورژوازي انقلاب (۱۷۸۹- ۱۷۹۳م.) کې د انقلابي طبقو د مشرۍ اړتیا احساس شوه. د هغو له رهبرانو څخه ماکسیمیلیان روبسپیر نومې دا انقلاب د عقل معجزه وبلله. هغه لازمه وګڼله، تر څو انقلابي ځواکونه شعوري فعالیت ته اشاره وکړي. د فرانسې انقلاب د ۱۷۸۹م. کال د جولای په ۱۴مه د باستیل پر زندان د خلکو له یرغله سره پیل او رهبري کوونکو ارګانونو کنونتونه جوړ کړل، چې د انقلابي پرګنو په زندان واوښت.

د انقلاب رهبرانو ټولنیزو ، سیاسي اوښتونونو ته، چې خپله دوی را منځ ته کړي وه، دوام یې ور نه کړ، نو ځکه دوی د انقلاب لومړني قربانیان شول.

د ۱۸م. پېړۍ په وروستیو کې بورژوازي د یو ټولنیز ځواک په صفت عمل و نه کړ، نو هغه و، چې د دې طبقې په منځ کې درزونه او پولې را منځ ته شوې. لویې بورژوازي له پاچا سره سوله‌ییزي اړیکې لرلې، ځکه د دوی غوښتنې تامین شوې وې او دوی د منځنۍ بوژوازۍ، وړې بورژوازۍ او دریمې طبقې، چې مالیه ور کوونکي نومېدل، په ارمانونو کې شریک نه وو.

ستري مالي بورژوازۍ په توطیه لاس پوري کړ او د جولای په ۹مه یې د انقلاب ضد کودتا پیل کړه. کنونتونه ړنګ شول، روبسپیر او ملاتړي یې زندان ته ولېږل. دې پېښې د بورژوازي ډوله انقلاب یو بله ځانګړنه هم روښانه کړه؛ د رهبرانو

دوه‌مخیتوب. دوی له خلګو او د خپلو طبقاتي اقتصادي او سیاسي امتیازاتو د لاسه ور کولو څخه وېره لرله.

آیا دا هر څه د بورژوازي انقلاب د پوخوالي او محدودوالي په مانا نه دي، چې د خلګو په ګټه له ډیموکراټیکو او ژورو بدلونونو څخه قصداً مخ اړوي.

بورژوازي د خپل مقام د ساتلو او ټینګولو له پاره په مصنوعي بڼه د انقلابي پروسې مخه نیسي او هڅه کوي، چې دا پروسه له خپلو هغو پولو، چې هلته د بورژوازي واکمني پای مومي، و نه وځي.

لنین د فرانسې انقلاب دې ځانګړنې ته په کتو سره ولیکل: **د فرانسې انقلاب په نظر کي ونیسئ. بې ځایه نه ده، چې لوی ونومول شي. دې انقلاب د خپلې طبقې (بورژوازۍ) له پاره، چې کار یې ورته کړی و، ډېر څه ور کړل. ۱۹مه پېړۍ چې بشریت ته یې تمدن او فرهنګ وبخښل؛ دا هر څه د دې انقلاب تر سیوري لاندې تر سره شول. دې پېړۍ د نړۍ ځینې مسایل عملي او بشپړ کړل، چې د فرانسې د بورژوازي انقلابیونو په واسطه را منځ ته شوي وو.**

سره له دې چې د دې انقلاب ګټه د بورژوازي لاس ته ورغله، بیا هم دې انقلاب تاریخي - مترقي ارزښت درلود، ځکه د فرانسې انقلاب فیوډالیزم او استبداد ته په دې ډول پای ور کړ، چې تر هغه وخته یوه بورژوازي انقلاب هم ور سره بلدتیا نه لرله. بیا هم دا هر څه د هغو حلوونکو لاملونو له برکته وو، چې د انقلاب عمده

فاز يې په حرکت را وستی و او هغه د بزګرانو پرګنې او ښاریان وو. **همدا لاملونه څرګندوي، چې د فرانسې انقلاب د بورژوازي ډیموکراټیک انقلاب په څېر یاد کړای شي.**

**ټولنیز انقلاب د پرمختګ د لارې په هوارولو، خنډونو لیرې کولو سره څو ځله مترقي اقتصادي او ټولنیز ژوند ته د ټوپ وهلو مانا لري. ټولنیز انقلاب د لوکوموتیف په څېر، چې ټول اورګاډې ځان پسې را کاږي، د بشري پرمختګ په سر کې شتون لري.**

په ټوله کې ویلای شو، چې**انقلاب په اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او علمي برخه کې بنسټیز اوښتون ویل کیږي، چې په ټاکلي تاریخي مقطع کې د خپل خوځنده ځواک په وسیله تر سره کیږي.**

## د ۲۰مې پېړۍ ستره پېښه

وخت ځای په ځای نه دريږي. بالآخره هغه دوران را ورسېد، چې پانګوالی په خپل وروستي پړاو کې ګام کېښود او د تاريخي پرمختګ په وړاندې مانع شوه؛ يعنې مولده ځواکونه چې د پانګوالی په جريان کې جوړ شوي وو، له توليدي مناسباتو سره، چې د دوی له ودې يې مخنيوی کاوه، په ژور ټکر کې واقع شول. د انساني ټولنيز کار څخه د خصوصي ګټې اخيستنې تضاد له منځه وړل په يوه تاريخي الزامي اړتيا واوښته او دا مانا يې لرله، چې دا ځل به انقلاب **سوسياليستي** وي.

د ۱۹۱۷م. کال د اکټوبر د مياشتې په ۲۵ باراني شپه د پتروګراد په ښار کې دوو تنو ژر ژر ګام واهه، چې يو يې لنين او بل هم د هغه ملګری اينوراخبه نومی کارګر و. دوی دواړه د سمولنې انسټيټيوټ د پخوانی ودانی په لورې روان وو. په هماغه ورځو کې انقلابي-نظامي کمېټه د وسله‌وال پاڅون قرارګاه، چې موخه يې د بورژوازي او ځمکوالو د واک نسکورول و، ځای په ځای شوې وه. پر دې لاره تګ ډېر خطرونه له ځانه سره لرل؛ د لنډمهالي حکومت اجنټان د لنين په لټه وو، آن تر دې چې د هغه د نيولو پر سر يې جايزه هم ټاکلې وه. خو سره له دې هم د مارکسيستي ګوند رهبر د سمولنې په لور پرته له کومې وېرې وخوځېد، تر څو د انقلاب رهبري په غاړه واخلي. کله چې لنين سمولنې ته ورسېد، له هغې شېبې وروسته د پېښو لوری لا نور هم روښانه او ګړندی شو. د هغه ځو ورځې مخکې پلان داسې و، چې د پتروګراد او د هغه د شاوخوا پر عسکري قطعاتو بايد انقلابي

ځواکونه برلاسي او له کارګري ځایونو یرغل پیل او ښار په خپله ولکه کې راولي. د تلیفونونو او تلګرافونو مرکزونه، د اور ګاډو تمځایونه او پلونه اشغال او انقلابي ځواکونه ترې څارنه او ساتنه وکړي. دا ټول پلان په ډېره ځیرکتیا جوړ او داسې پلی کړای شو، چې پاڅون په ټوله مانا بري ته ورسېد. د پلان له مخې پاڅون د اکټوبر په ۲۴مه پیل او په ۲۵مه نېټه د نیوا سیند پلونه، د اورګاډو ترمینلونه، د تلیفون او تلیګراف مرکزونه، دولتي بانک د وسلهوالو کارګرانو، سرتېرو او بحري انقلابي ځواکونو لاس ته ورغلل. ژمنی ماڼۍ، چېرته چې لنډمهاله حکومت پناه وړې وه؛ د انقلابي ځواکونو په وسیله محاصره شوه.

د اکټوبر د ۲۵مې نېټې په سهار (چې د نوې کلیزې د نومبر له ۷مې سره سمون خوري) ورځپاڼو، راډیو او تلګراف «د روسیې خلګو!» تر عنوان لاندې یو پیغام خپور کړ، چې بشپړ متن یې داسې و:

**«لنډمهاله حکومت نسکور شو! د دولتي ځواک واګې د انقلابي نظامي کمېټې، د پتروګراد د ښار د کارګرانو او سرتېرو له خوا د وکیلانو شورا ته، چې په سر کې یې پرولتاریا (صنعتي کارګران) او د پتروګراد ګارنېزیون دی؛ انتقال شوی.**

**هغه څه چې خلګو یې په موخه مبارزه کول؛ یانې د ډیموکراټیکې سولې وړاندیز، په ځمکو د مالکینو د ملکیت لغوه، پر تولید کارګري کنټرول او د شوراوو د حکومت جوړول، به ترسره شي.**

**ژوندی او تلپاتې دې وي د کارګرانو، سرتېرو او کروندګرو انقلاب!»**

د اکتوبر د ۲٦مې نېټې پر ۲ بجو او ۱۰ دقیقو د ارورا نومې انقلابي کښتۍ د یرغل پیلولو د نښې په حیث په ژمنۍ ماڼۍ د کروز توپونو ګوزارونه وکړل. له دې یرغل سره ماڼۍ هم تر ولکې لاندې راغله. څو ساعته وړاندې له دې په سمولنې کې د ټولې روسیې دوهمه کنګره پرانیستل شوه او پرېکړه یې وکړه، چې ټول دې کروندګرو، سرتېرو او د کارګرانو د وکیلانو شورا ته وسپارل شي.

د اکتوبر سوسیالیستي انقلاب د روسیې او نړۍ په تاریخ کې نوی څپرکی پرانیست. نوی دوران –له پانګوالۍ څخه کمونیزم ته د تېرېدلو دوران- پیل شو. دې نوي دوران په لاره کې له ځانه سره ډېرې تېروتنې، ازموینې او ازمایښتونه لرل.

## اوس یو څه شا ته درومو!

د ۱۸۸۱م. کال د مارچ په اوله دوهم‌الکساندر (تزار) په ژمنۍ ماڼۍ کې د داخلي چارو وزیر خپل حضور ته ومانه او د هیواد پر داخلي وضعه یې له هغه سره اوږدې خبرې وکړې او له هغه وروسته شاهانه ذات د وسله‌والو ځواکونو د کتنې له پاره وخوځېد. په دې وخت کې ټاکلې موخې ته له رسېدو دمخه یو بم وچاود. امپراطور له ګاډیه کښته شو، تر څو له هغه کس څخه چې د نوموړې د وژلو نیت او هڅه یې کړې وه، پلټنه وکړي. په دې وخت کې دوهم بم وچاود، خو دا ځل د روسیې امپراطور دوهم‌الکساندر (تزار) سخت ټپي شو او بالمقابل هغه کس، چې د نوموړې د وژلو هڅه یې کړې وه، ځای په ځای مړ او بل یو یې ونیو.

نوموړي د «د خلګو ارادې» نومې پټ سازمان غړي وو او ډېر ژر د دې سازمان ځینې مشران ونیول شول او ځینې هم د مقاومت له امله ووژل شول. د اپرېل په ۳مه نېټه د دې کړنې سازمان ور کوونکي او ګډون کوونکي په راڼه میدان کې اعدام او لسګونه تنه نور انقلابیون یې د پتروپاولفسک او شلیسلبورګ د زندانونو تورو کوټو ته وغورځول. دا د انقلابیونو د هغه خام خیال پایله وه، چې د تزار او نورو په وژلو سره د استبداد د نړولو له پاره یې ور کړه. سره له دې چې د دوی موخې انساني وې او دوی هیله‌من وو، تر څو د تزار کرکجن نظام لغوه او په ځای یې ډموکراټیک جمهوریت د خلګو په ګټه نظام مستقر کړي، خو د تاریخي اړخه د دوی مبارزه د ماتې وړ وه؛ ځکه په دې لار کې یوازې اتلانو قرباني ور کوله. دوی د پرګنو او طبقو رول په نظر کې نه نیوه او یو ډول اتلولۍ (هیروییزم) ته معتقد وو.

«د خلګو ارادې» سازمان غړي، چې ځانونه یې په بشپړ ډول د بې‌وزلانو او تر ستم لاندې خلګو د چوپړ له پاره ګمارلي وو، د خلګو په ملاتړ یې د زړه له کومه باور درلود. هغوی په خپلو ټولو مرامي لاسوندونو کې روښانوله، چې پرته له دې ډول ملاتړه په پلازمېنې او نورو سیمو کې پاڅون له ماتې سره مخ کیږي او کودتا یوازې د انقلاب د ودې لومړنی پړاو وي.

د انقلابیونو هیلې پوره نه شوې. سره له دې چې پتروګراد او ټول هیواد د دې پېښې له امله حیران شو، خو بیا هم ولسي پاڅون تر سره نه شو او ولسونو «د خلګو ارادې» سازمان دې بلنې ته لبیک و نه وایه.

## علت یې څه دی؟

لنین څو ځله د روسیې آزادي‌بخښونکي غورځنګ دې پانې ته رجوع کړې او د هغوی له پاکوالي او قربانۍ څخه یې په کراتو مثبته یادونه کوله او ویل یې: «**هغوی له ځانه ستره اتلولې وښوده...**»

پرته له شکه دا قربانۍ بې‌ځایه نه وې، مستقیم یا غیرمستقیم یې د روسیې د خلګو په انقلابي روزنه کې رول درلود. خو خپل ذاتي او وروستني هدف - د خلګو انقلاب- ته و نه رسېدل او نه یې شوای کولای، چې ورسیږي.

لنین نه یوازې د دوی «د خلګو ارادې» سازمان د مبارزې شکل او د میتود بې‌اساس‌والی روښانه کړ، بلکې د دې ماتې ډېر ژور لاملونه یې هم په نظر کې لرل.

د دې له پاره چې دا لاملونه سم وپېژندل شي، اړینه ده تر څو د مارکسیستي- لنینیستي تیورۍ له مفاهیمو څخه د انقلابي وضعې مفهوم تر مطالعې لاندي ونیول شي:

هغه لیکلي وو: «**د یوه مارکسیست له پاره د شک وړ نه ده، چې انقلاب پرته له انقلابي وضعې ناشونی دی! پوښتنه دا ده چې د انقلابي وضعې ځانګړنې څه او څه رنګه دي؟**»

**اول:** د حاکمو طبقو له خوا د واکمنۍ ساتلو وړتیا نه لرل او یا هم په حکومتولۍ کې د بدلون را وستلو اړتیا . داسې وضعیت چې معمولاً کړکېچ نومیږي، د ټولنې سیاسي ټیکاو ګډوډوي او کله کله خپله د حاکمو طبقو په منځ کې د بېلوالي لامل ګرځي.

**دوهم:** تر ستم د لاندې طبقو د اقتصادي بدمرغیو چټکه وده، چې د ستر بدلون او اوښتون لامل ګرځي. په لومړیو کې په ښکاره ډول نیوکې کوي او بیا په ښکاره ډول مبارزه!

**دریم:** د پرګنو سیاسي وده؛ د پورتنیو له سیاسته د خفګان څرګندونه او نیوکې، د زیارکښې طبقې په مخکښانو کې د انقلابي تمایل وده.

داسې هم ویلای شو، چې لنین د انقلابي وضعې له پاره درې عمده نښې په ګوته کړي دي:

۱- عمومي ملي بحران: چې زیېښونکي او زیېښېدونکي دواړه په بر کې نیسي؛ یانې کښتنۍ او پورتنۍ طبقې دواړې نه غواړي، چې د پخوا په څېر ژوند وکړي.

۲- د زیار ایستونکو پرګنو د اړتیاوو چټکه وده.

۳- د زیار ایستونکو پرګنو د هلو ځلو ډېروالی. د عمومي کړکېچ او حاکمو کړیو د کړنو له امله تر پخوا په لوړه کچه تاریخي مستقلې مبارزې ته را کشیږي.

**انقلابي وضع:** ټولنیز انقلاب عبارت دی د ټولنیزو تضادونو له حل څخه! خو په دې شرط چې د بېخبنا او مخبنا کیفي بدلون د ټولنیز اقتصادي فورماسیون د بدلون لامل شي.

د مؤلده ځواکونو او تولیدي مناسباتو تر منځ تضاد د انقلاب اقتصادي ستنې؛ یاني مادي شرایط را منځ ته کوي او په یوه ټاکلې مرحله کې د ټولنیز انقلاب اړتیا مطرح کوي. د انقلاب له پاره یوازې مادي شرایط بسنه نه کوي، بلکې عیني شرایط (عیني بدلونونه) هم اړین دي او د لنین په وینا: «**عیني بدلونونه انقلابي وضعه نومیږي!**» انقلابي وضعه د هر هیواد په تاریخي شرایطو او عیني بدلونونو پورې تړلې ده او د دې شرایطو په نظر کې نیولو سره ګڼ شکلونه غوره کوي. هغه څه چې ډېر مهم دي، دا دې چې: «**انقلاب پرته له انقلابي وضعې ناشونی دی او په ټولنیز ژوند کې انقلابي وضعه د ټاکلو عیني بدلونونو معلول ده.**»

لنین وایي: «**دا وضعه نه یوازې د څو کسانو، ډلو او ګوندونو په ارادې پورې، بلکې د بېلو طبقو په ارادې پورې هم اړه نه لري!**»

انقلاب د انقلابي وضعې پرته شوني نه دی، خو له هرې انقلابي وضعې څخه انقلاب نه را منځ ته کیږي، د دې له پاره چې انقلاب پلی شي، ذهني عامل ته هم اړتیا لري. د لنین په وینا: «**انقلاب د هرې انقلابي وضعې زېږنده نه، بلکې د داسې وضعې څخه زېږي، چې په هغې کې په نومورو بدلونونو باندې ذهني بدلون (په پیاوړو پرګنیزو کړنو کې) د انقلابي طبقې توانېدنه ور اضافه شي،**

**تر څو وکولای شي، زوړ دولت، چې په کړکېچونو کې غورځول شوی وي؛ مات او يا هم متزلزله کړي. دا چاره يوازې د انقلابي طبقې مخکښ (د کارګري طبقې ګوند) په وس پوره ده.»**

د کارګري طبقې ګوند د انقلاب د ذهني عامل روح او ماغزه تشکيلوي. د انقلاب لنيني تيوري د کيڼو افراطينو په وړاندې ده، چې يا د انقلاب د انقلابي وضعې شتون نفي کوي او يا له هغه سره برسېرن عاميانه چلند کوي. (الف-کب، سياسي او ټولنيزي ګړنې)

د لنيني تيورۍ په اړه د زيارکښانو څلور رهبر ژ. ستالين ليکي، چې: «**لنينيزم د امپرياليستي دور او پرولتري انقلاب مارکسيزم دی!**» او زياتوي، چې: «**په ټوله ائيزه توګه لنينزم د پرولتري انقلاب تيوري او تاکتيک ده او په ځانګړې ډول د پرولتري ديکتاتورۍ تيوري او تاکتيک ده.**»

مارکس او انګلس د انقلاب «پرولتري انقلاب» مخکې دوره کې، هغه وخت چې امپرياليزم وده نه وه کړې، پرولتاريا د انقلاب له پاره آماده کېده، هغه وخت چې پرولتري انقلاب عملاً او مستقيماً د پلې کېدو وړ نه و، خو لنين چې د مارکس او انګلس شاګرد دی، په امپرياليستي دوره کې، په هغه دوره کې چې پرولتري انقلاب پراختيا وموندله، کله چې پرولتري انقلاب په يوه هيواد کې بريالی شوی او بورژوازي ډيموکراسي يې نسکوره کړې وه، د پرولتري ډيموکراسۍ او شوراګانو وخت پيل شوی و، د عمل ډګر ته ودانګل. همدا ده، چې لنينزم د مارکسيزم وده بلل کيږي. (ستالين، د لنينزم اصول، د کلياتو ټولګه، ۱۸ مخ)

لکه څنگه مو چې وړاندې ورته اشاره وکړه: د انقلابي وضعې راتگ د انقلاب د پیل مانا نه لري یا په بله وینا انقلاب له هر ډول انقلابي وضعې نه زیږي. داسې یوه پیښه په ۱۸۸۱م. کال په روسیه کې وشوه او دې ته ورته وضعه د مارکس او انگلس د څرگندونو له مخې په آلمان، اتریش او د اروپا په ډېریو هیوادونو کې را منځ ته شوې وه. دوی یوازې د هیواد د ککړتیا لامل گرځي. (ښه نمونه یې هم زموږ په هیواد کې د ثور د ملي ډیموکراتیک انقلاب څخه وروسته ملي ډیموکراټانو د لنین د دې نظر څخه په شعوري ډول سترگې پټې کړې او د انقلابي وضعې په را وستلو کې ناکام شول او د ثور انقلاب یې د شکست سره مخ کړ. آ.خ.ا)

د ۱۹۰۵م. او ۱۹۰۷م. کلونو تر منځ په روسیه کې بورژوا ډیموکراتیک انقلاب بري ته ورسېد او دا انقلاب د امپریالیستي دور لومړنی انقلاب و، یانې ولسي اړخ یې درلود.

دا مطلب د دې انقلاب د ځینو ځانگړنو سبب وگرځېد او هغه دا چې: دې انقلاب وښودله، چې د امپریالیستي دوران بورژوازۍ خپل پخوانی انقلابي خاصیت له لاسه ورکړی او په پرمختللو صنعتي هیوادونو کې په یوه داسې ارتجاعي طبقه اوښتې ده، چې د ځواني پانگوالۍ یا د پانگوالۍ په لومړیو کې فیوډالانو دا ځانگړنه درلوده.

له دې امله په انقلاب (د روسیې د ۱۹۰۵ او ۱۹۰۷ کال بورژوا ډیموکراتیک انقلاب) کې د طبقاتي ځواکونو اړخ نیول د تناسب لامل وگرځېد، یانې د هژمونۍ

رول یې د روسیې پرولتاریا په غاړ واخیست. د پرولتاریا طبقه له ټولو مخکښه او بزګران د دوی نږدې ملګري ول او دا ځانګړنه د دې لامل شوه، چې انقلابي پرګنې د خپلو ډیموکراټیکو غوښتنو تر څنګ د تزاریزم ړنګول هم وړاندې کړي.

پاته دي نه وي، چې په دویمه غوښتنه کې بورژوازي هم ور سره همغږې وه او علت یې دا وو، چې تزار د پانګوالې د ودې پر وړاندې یو خنډ وو.

سره له دې چې د روسیې د ۱۹۰۵م. کال بورژوا ډیموکراټیک انقلاب ماتې وخوړه، ځکه هغه وخت د خلګو ضد ځواکونه پیاوړي وو، خو بیا هم دې انقلاب د استبداد پښې ولړزولې. پرته له دې یاد انقلاب نړیوال توپانونه وزیږول، چې تر ښکېلاک لاندې خلک د امپریالیزم په وړاندې سره یو شول...

د ۱۹۰۵- ۱۹۰۷م. کال انقلاب خپله د روسیې له پاره د ۱۹۱۷م. کال د اکټوبر د انقلاب له پاره یو ښه تمرین او ښه تجربه وه. همدارنګه د ۱۹۰۷م. کال د اکټوبر ستر سوسیالیستي انقلاب د راتلونکي نړیوال انقلاب له پاره یوه ښه تاریخي، تیوریکي او پراتیکي تجربه ګڼل کیږي. د ۱۹۱۷م. کال د اکټوبر ستر سوسیالیتي انقلاب د لومړي ځل له پاره په تاریخ کې ټولې طبیعي سرچینې، کار او تولید اوزار، ځمکه او پانګه د خلګو په ګټه وځرخول.

د انقلاب له نورو ډولونو سره د اکټوبر انقلاب بنسټیز او روڼ توپیر په دې کې و، چې د زیېښاک د شکل بدلولو پر ځای یې خپله زیېښاک ته د پای ټکی کښیښود.

## خلګ د نوي جهان خالقین شول!

دا هر څه د دې دلیل ګرځي، چې د ۱۹۱۷م. کال د اکتوبر انقلاب د ۲۰مې پیړۍ ستره تاریخي پېښه وه. په همدې وخت کې د ۱۹۱۷م. کال یو ځل بیا د دې ګواهي ور کوي، چې د انقلاب آسانه چاره نه ده. نسکور شوي طبقات هیڅ کله هم خپل امتیاز په آسانه د لاسه نه ور کوي او د لاسه ور کړي شویو شیونو د بیا را ګرځولو په موخه هر ډول کار ته لاس اچوي. سیاسي او اقتصادي سبوتاژ کوي. رواني جګړو، داخلي شخړو، توطیو او دسیسو ته لمن وهي او داسې نور...

لنین ویل: «**هیڅ کله به هغو خلکو ته ماتي ور نه کړی، چې په هغوی کې ډېرکي (کارګران، بزګران او زیارایستونکي) دا درک او احساس کړي، چې له خپل سیاسي واکه برخمن دي او د هغو دفاع کوي!**»

### د انقلاب زېږځای هر چېرته دی!

د اکتوبر تر مستقیمې اغېزې لاندې په هنګرې، باواریا او سلواکیا کې سوسیالیستي انقلابونه وخوتېدل. سره له دې چې هماغه وخت دا انقلابونه د انقلابي ضد ځواکونو له خوا غلي شول، خو تخم یې شل کاله وروسته سر را پورته کړ. د یوګوسلاویا خلګو له اکتوبره الهام واخیست او ملي استقلال یې تر لاسه کړ. بلغاریا هم انقلابي څپو لاندې کړې وه. طبقاتي شخړې په انګلستان، فرانسې، بلژیک، ایټالیا، د امریکې په متحده ایالاتونو او جاپان کې چټکې شوې. ملي آزادي غوښتونکې مبارزه په ترلو او مستعمره هیوادونو کې ځواکمنه شوه. د لنین

په قول: «**اکتوبر په نړدې راتلونکي کې ټولو هیوادونو ته د کتنې وړ یو څه ور ښودل. د ۱۹۱۷م. کال اکتوبر انقلاب تجربې د آزادۍ د لارې مخکښانو او مبارزینو او کارګري طبقې ته ډېر څه ور په برخه کړل!**»

څه رنګه سوسیالیزم ته ورسیږو؟

لنین په دې ډول فرمول‌بندي کړې ده:

۱- پر تولیدي وسایلو د ټولنیز ملکیت واکمنېدل.

۲- د کارګري طبقې په مشرۍ د زیارکښانو واکمني.

۳- د انقلاب او سوسیالیستي بدلونونو اړوند د مارکسیستي-لنینستي ګوند رهبري.

هغه قانونمندي چې د اکتوبر انقلاب په وسیله کشف شوې، په مکمله توګه په خلقي-ډیموکراتیکو انقلابونو کې، چې ژر په سوسیالیستي انقلابونو واوښتل او د دویم نړیوال جنګ په جریان کې یا له هغه وروسته د مرکزي، ختیځې او سویل ختیځې اروپا او د آسیا په سویل ختیځو هیوادونو کې را څرګند شوي دي. په ۱۹۵۹م. کال د «آزادۍ جزیره» کیوبا کې خلقي-ډیموکراتیک انقلاب بري ته ورسېد او په دې ډول نړیوال سوسیالیستي بلاک را منځ ته شو.

د سوسیالیستي هیوادونو ټولنیز پراتیک د نورو هیوادونو د پراتیک په څېر د ټولنیزو بدلونونو له پاره ګړندي ګامونه اوچت کړل او دا حقیقت یې اثبات کړ، چې انقلابونه نه د چا په خوښه او نه هم د چا په خیر غوښتنه تر سره کیږي، البته

په هغه زمان او مکان کې سر ته رسيږي، چې هلته د يادي چارې له پاره هر ډول شرايط چمتو او پاخه شوي وي. دا يې هم څرګنده کړه، چې په دې هر يوه هيوادونو کې دا اوښتونونه د هغو جغرافيو د شرايطو، د اقتصادي او فرهنګي ودې او ملي ځانګړنو پورې تړاو لري. ياني دا انقلابونه د يو بل تکرار او کاپي نه، بلکې د هر هيواد د خپلو خاصو شرايطو او د طبقاتي ځواکونو د تناسب له مخې تر سره شوي دي. طبيعي ده چې ټول انقلابي ځواکونه خپله دنده په دې کې نه ګڼي، تر څو د خپلو ملي مناسباتو څخه ډډه وکړي او دا ځکه چې ملي ځانګړنې هيڅ کله هم د علمي سوسياليزم او سوسياليستي انقلاب بنسټيز خاصيتونه او اصول نه نفي کوي. په نړۍ کې د ځواکونو نوي تناسب د سوسياليستي ځواکونو تاريخي لوړتيا او د ملي آزادي بخښونکو انقلابونو له پاره نوي شرايط تيار کړل. ډېرى خلک چې پخوا تر اسارت لاندې وو، نن يې د ملي استقلال او ټولنيزي ودې په لور ګام ايښى دى. په ۱۹۱۷م. کال مستعمره او نيمه مستعمره هيوادونو د جهان ۷۲ سلنه اراضي، چې د نړۍ ۶۹ سلنه وګړي پکې مېشت وو، نيولې وه، خو اوس دا ساحه ۱،۱ سلنې ته را کښته شوې ده. له ۱۹۱۷م. کال څخه تر ۱۹۴۰م. کال پورې ۸ هيوادونو سياسي استقلال تر لاسه کړ او له ۱۹۴۱م. کال څخه تر ۱۹۵۹م. کال پورې ۲۱ هيوادونه آزادۍ ته ورسېدل.

دا بايد ووايو، چې د امپرياليزم زبېښاککر سيستم ته د لومړي ځل له پاره په آسيا کې ټکانونه ور کړل شول او وروسته په ۶۰ لسيزه کې د افريقا او امريکا په

مستعمرو کې د ملي آزادي غوښتونکو انقلابونو لړۍ پيل شوه. په ۷ او ۸ لسيزو کې نړۍ د خلقي - ډيموکراټيکو انقلابونو شاهده وه.

په ياد مو وي، چې انقلابونه له يوه ځايه بل ځای ته نه لېږل کيږي! بلکې دا ژوندۍ ټولنيزه پروسه ده او هر يو له دغو فرهنگونو څخه نه يوازې انقلابي پراتيک غني کوي، بلکې د نړيوالي انقلابي پروسې په تيوريک درک کې خورا ارزښت لري.

معاصر ملي آزادي غوښتونکي او ملي-ډيموکراټيک انقلابونه نه يوازې امپرياليستي ضد انقلابونه دي، بلکې د فيوډاليزم او ماقبل فيوډاليزم مناسباتو، چې په مصنوعي ډول د امپرياليزم له خوا يې ملاتړ کيږي، په وړاندې مبارزه هم بلل کيږي.

د دې انقلابونو په درشل کې د سياسي آزادۍ د پروسې پای ته رسېدو سره د اقتصادي استقلال او د ژورو ټولنيزو اوښتونونو لړۍ پيلولو مسئله را وړاندې کيږي او دا مسئله د راتلونکې لارې په ټاکلو کې بنسټيز رول لري.

دلته د اوسنيو (انحصاري بورژوازي/ امپرياليستي شرايطو) او پخوانيو (د نورمالي بورژوازۍ/ځواني پانگوالۍ) شرايطو کې د ملي آزادي غوښتونکو انقلابونو تر منځ روښانه توپير شتون لري او هغه دا چې د ځوانې پانگوالۍ په دوران کې ملي آزادي بخښونکي انقلابونه (په ۱٦مه پېړۍ کې د اسپانيا په وړاندې د نيدرلاند هيوادونو انقلاب، د امريکال په شمال کې د انگرېزانو د باداری په وړاندې د ۱۸مې پېړۍ انقلاب، د اسپانيې او پرتگال د زبېښاک په وړاندې د لاتيني امريکې

یوه سلسله انقلابونه...) وو، چې د پردیو جُغ/ یوغ یې لیرې وغورځاوه او د بورژوازي نظام لاره یې، چې تر فیوډالیزم پرمختلی وو، هواره کړه، خو نن ورځ دا هر څه توپیر کوي، ځکه چې دا انقلاب توانېدلی دی، چې د اړینو شرایطو په برابرولو سره سوسیالیزم ته واوړي. د سوسیالیستي هیوادونو او نړیوالو کارګري غورځنګونو سره د یووالي ټینګښت د انقلابونو د ودې له پاره خورا ارزښت لري.

هغه ځایونو کې چې انقلابونه ځواکونه بریالي کیږي او له خپلو دریځونو څخه دفاع کولی شي، په دې وخت کې واقعي شرایط د سوسیالیزم له پاره اماده کیږي؛ یاني د هغو خلګو له پاره چې د پانګوالۍ په دېګ کي نه دي پاخه شوي، د سوسیالیستي ټولنې د جوړېدا شرایطو عملي کېدل، شونتیا مومي او یا هم د پانګوالۍ څخه پرته سوسیالیزم ته د ودې لاره او دا چاره یوازې او یوازې د خلقي-ډیموکراټیک انقلاب د لارې شونې ده او بس! په ځانګړي ډول په وروسته پاته هیوادونو کې، چې ښه مثالونه یې هم د چین، کیوبا، ویتنام او نور خلقي-ډیموکراټیک انقلابونه او خلقي جمهوریتونه دي.

یوټوپیا نومي هیواد کې د خلګو-ډیموکراټیک انقلاب څخه وروسته بې ځمکو کروندګر د ځمکو خاوندان، کوپراتیفي فارمونو کې سره متحد او د ګډو کروندو په کرنه باورمند شول.

د انقلابي حکومت له خوا د کار اړوند د نوي جوړ شوي قانون له مخې د تقاعد عمر ۵۵ کاله او تقاعدي یې د وروستنۍ تنخوا له نیمایي ډېره وټاکل شوه. اجباري

روزنه عملي او کار تر ۸ ساعتونو پورې را ټيټ شو. روغتيايي مرستې وړيا او ټولو زيارايستونکو ته د رخصتی د مودې تنخوا هم ور کول کېده.

له انقلابه لس کاله وروسته صنعتي توليد له ۸۰ سلنې څخه زيات وسنجول شو. لنين د يوټوپيا انقلابي حکومت د کړنو په باب وايي، چې: «**دا نه سوسياليزم دی او نه هم کپيټاليزم، بلکې د سوسياليزم پر لور يو ستر گام دی...**»

د سوسياليزم پر لار د لارې انقلابي ماهيت خلقي او ډيموکراټيک انقلاب دی. د دې انقلاب ځانگړنې په لاندې ډول دي:

۱- په ژوره توگه په خپل وخت او زمان سره د بزگرانو د قرضونو، سود، سلم، اجارو او گرويو لغوه کولو اړوند د انقلابي فرمانونو اعلان او تطبيق.

۲- په ژوره توگه سره د پخوانيو گوندي او دولتي لوړو واکدارانو د اموالو، توکو او جايدادونو، چې په غيرقانوني ډول يې را ټول کړي وي، ضبطول او ملي کول.

۳- په خلقي-ډيموکراټيک دولت کې عمده سياسي ځواک او واک د زيار ايستونکو (کارگرانو، بزگرانو، مترقي روڼ‌آندو) په لاس کې وي.

۴- د چټکو اقتصادي پلانونو وضع کول.

۵- د ټولو بهرنيو امپرياليستي پانگو ملي کول (تر خلقي-ډيموکراټيک دولت لاندې د هغو را وستل).

٦- په ژوره توګه سره د ځمکو اصلاحات تر سره کول، تر څو د یو کس له خوا د بل کس هر ډول ستم او زبېښناک پکې له منځه یوووړل شي او دا شعار عملي شي، چې: ځمکه د هغه چا ده، چې کار پکې کوي!

۷- د چټکو اقتصادي پلانونو له تطبیقولو او د ځمکو د ژورو اصلاحاتو له بریالي کېدو څخه وروسته د ښځو د نه خرڅولو، د مهرو په بدل کې د هغوی د نه ور کولو په اړه د انقلابي فرمانونو اعلان او تطبیق.

۸- په ژوره توګه سره د دولت له خوا د داخلي او بهرنۍ سوداګرۍ او توکو د بیو ټاکل او په کلکه توګه سره د هغوی څارل.

۹- د خلقي-ډیموکراتیک انقلابي قانون سره سم د ادیانو او مذهبي عقایدو د آزادۍ تامین.

۱۰- د دولت له خوا د ملي بورژوازۍ سره د ملي صنایعو په برخه کې مرسته کول، د هغوی تقویه کولو خو وده نه ور کول.

۱۱- په هیواد دننه، تر هغه وخته د امپریالیستي هیوادونو له توکو څخه استفاده کول، چې د هغه په ځای د سوسیالیستي او سوله‌دوستو هیوادونو توکې راوړل شوي نه وي.

۱۲- په هیواد دننه د اړتیا وړ توکو تر تولید او په کار اچولو څخه وروسته، د خارجي امپریالیستي هیوادونو پر توکو باندي ژور بندیز لګول.

۱۳- د نرانو او ښځو د آزادیو او حقوقو برابروالی.

۱۴- د انقلابي رون آندي قشر منځ ته راوړل.

۱۵- د خلقي-ډیموکراټیک انقلابي اساسي قانون په وړاندې د هیواد د ټولو وګړو د مدني حقوقو او آزادیو برابروالی.

۱٦- په ژوره توګه سره د هیواد د ځنګلونو، معدنونو او ټولو طبیعي زېرمو او شتمنیو ملي کول.

۱۷- په ژوره توګه سره د هیواد د ځوان نسل له پاره په وړیا ډول سره ښوونه او روزنه، لیک او لوست او طب مهیا کول.

۱۸- په ژوره توګه سره د یو داسي خلقي-انقلابي وسله‌وال پوځ جوړول، چې د انقلاب له ارمانونو څخه دفاع وکړي.

۱۹- په ژوره توګه سره د اختلاس، احتکار، مخده او قاچاقي توکو، بډو اخیستلو او ور کولو، د جنایي او ډول ډول جرمونو، کاغذپرانیو او بېروکراسۍ، غلاوو، فحشاء او رنګ رنګ اداري فساد او داسي نورو ناوړه خلقي ضد کړو وړو سره په کلکه مبارزه کول.

۲۰- په ژوره توګه سره د ملي ستم له منځه وړل (د ملي مسئلې حل کول) او د پرولتري اینټرنېشنلیزم خصلت لرل. (د ډ. ع. ز. د خلقي مبارزې الفباء، ۵۵- ۵۷ مخونه)

لنین وایي: د هرې کلمې تر شا یو مفهوم پروت دی! په پورتنیو مادو کې د «په ژوره توگه» نومې اصطلاح بیا بیا را تلل دا مانا افاده کوي، چې که چېرته یاد مسایل په سطحي ډول عملي شي، نو د انقلاب ماهیت بدلون مومي؛ یاني انقلاب به خلقي-ډیموکراټیک نه، بلکې ملي-ډیموکراټیک به وي... ملي-ډیموکراټیک انقلابونه سره له دې چې مترقي ځانگړنه لري، خو ډېری وخت د کښتنیو طبقو نه، بلکې اپوټه د پورتنیو طبقو په گټه څرخیږي.

بیا هم د خلقي مبارزې الفبا نومې تاریخي اثر څخه را نقلوو:

لنین ویلي دي، چې: «انقلابونه د فرمایش پر بنسټ نه تر سره کیږي او به دې یا هغې شپې نه کیږي، بلکې انقلابونه د تاریخي ودې په بهیر کې پوخوالي ته رسیږي او هغه وخت پیلیږي، چې د داخلي او بهرنیو علتونو بشپړه لیکه او کمپلیکس د هغو سبب شي... همدارنگه زیاتوي او لارښوونه کوي، چې انقلابونه هغه وخت وده کوي، کله چې په لسهاوو ملیونه وگړي دې پایلې ته ورسیږي، چې په راتلونکي کې په دې شیونو ژوند کول ناشونی دی...»

## د انقلاب ډولونه

انقلاب په ټوله کې پر دوه ډوله دی؛ بورژوازي انقلاب او سوسیالیستي انقلاب.

**اول- بورژوازي انقلاب**

د ټولنیز انقلاب یو ډول دی، چې د تولیدي ځواکونو، فیوډالي او نیمه فیوډالي اقتصادي او سیاسي سیستم تر منځ د شته تضاد په حلولو پورې تړاو لري. په استعماري او مستقلو هیوادونو کې د امپریالیزم ضد او فیوډالي پاته‌شونو ضد انقلابونه په دې کټګورۍ کې شاملیږي. د بورژوازي انقلاب تاریخی دنده دا ده، چې د پانګوالۍ د پراختیا او ودې په وړاندې شته خنډونه له مخې لیرې او له منځه یوسي. په حقیقت کې د دې انقلاب ځینې ډولونه د پانګوالۍ ضد ټاکلي اقدامات له ځانه سره را نقلوي، خو بیا هم د دوی عمومي خصویت نه بدلیږي او د بورژوازي ټولنې سالم او عمده بنسټونه له منځه نه وړي او د تولید پر وسایلو بیا هم خصوصي مالکیت موجود وي.

بورژوازي انقلاب په خپل ذات کې پر دوه ډوله دی؛ د بورژوازۍ د لوړ قشر انقلاب او بورژوا ډیموکراتیک انقلاب.

**الف- د بورژوازۍ د لوړ قشر انقلاب:** دا انقلاب د بورژوازۍ تر رهبرۍ لاندې، بې له دې څخه چې خلګ په پراخه کچه پکې ګډون وکړي، د ټولنیزو ژورو بدلونونو په لور رهبري کیږي. د مثال په ډول: په ۱۸۶۷-۱۸۶۸م. کال کې په جاپان کې، همدارنګه د ترکیې ځوان انقلاب او داسې نور...

**ب- بورژوا ډيموکراټيک انقلاب**: په دې انقلاب کې د پرولتاريا او بزګرانو فعال ګډون له څمکني انقلاب سره پيوستون لري او همدارنګه د بورژوا ډيموکراټيک انقلاب د هرې جغرافيې د تاريخي شرايطو په نظر کې نيولو سره لاندې ګنې بڼې تجربه کړي دي:

*۱- د فيوډاليزم پر وړاندې د مبارزې په جريان کې بورژوا ډيموکراټيک انقلاب:* دا انقلاب د بورژوازۍ تر رهبرۍ لاندې سر ته ورسېد، چې د بورژوازۍ سياسي او اقتصادي واک يې تامين کړ، لکه د فرانسې ستر بورژوازي-ډيموکراټيک انقلاب.

*۲- د امپرياليزم د زوال په لومړۍ مرحله کې بورژوا-ډيموکراټيک انقلاب:* د بزرګانو سره په يووالي کې د پرولتاريا فعاليتونه دي. دا ډول انقلاب لامل شو، چې د پانګوالۍ د ګړندي انکشاف له پاره يې زمينه برابره او هواره کړه. دا ډول بورژوا ډيموکراټيک انقلاب سوسياليستي انقلاب ته د ودې شرايط وزېږول، لکه د روسيې د ۱۹۱۷م. کال د فبرورۍ بورژوا انقلاب.

*۳- د پانګوالۍ د عمومي زوال په دريمه مرحله کې بورژوا-ډيموکراټيک انقلاب:* لکه د خلقي ډيموکراسيو انقلابونه.

*۴- د پانګوالۍ د عمومي زوال په دريمه مرحله کې بورژوا ډيموکراټيک انقلاب:* په مستعمرو او مستقلو هيوادونو کې د ملي ډيموکراټيکو انقلابونو په حيث پېژندل شوي دي.

دلته د بورژوا ډيموکراټيک انقلاب اړوند د زيارکښانو ځلورم رهبر ژوزف سټالين د ۱۹مې کنګرې هغه وصيت، چې د نړۍ کمونيست ګوندونو ته يې ايراد کړی و، را نقلوو:

**«په اوسني وخت کې بورژوازي، امپرياليستي مرحلې ته رسېدلې ده. بورژوازي هغه پخوانی مُډرنيزم، چې په بورژوازي انقلابونو کې يې له ځانه ښوولی و او هر څه يې مډرن کړل، اوس يې هغه پرېښودلی دی او په وروسته پاته هيوادونو کې چې د بورژوازۍ د واقعي انقلاب د سر ته رسولو په جريان کي دي؛ د بورژوازۍ پر ضد د ډېرو وروسته‌پاته کړيو څخه دفاع کوي. د نړيوال امپرياليزم له ډاره بورژوازي عناصر نه توانيږي، چې د مُډرنيزم بيرغ پورته کړي. دا د کمونيستي ګوندونو دنده ده، چې له مډرنيزم څخه دفاع وکړي.»**

خو له بده مرغه په شوروي اتحاد کې د خروسچف او رويژنيزم په واکمنېدو د ۱۹مې کنګرې له محتويانو څخه انکار وشو، چې په نتيجه کي يې د بورژوازۍ تر رهبرۍ لاندې ملي ډيموکراټيک انقلابونه د آسيا، افريقا او لاتيني امريکا په وچو کې ناکام شول، لکه په مصر، الجزاير، ګيتي، مالي، برما، چيلي، عراق، سوريه، ليبيا، افغانستان او داسې نورو کې.

## دوهم- سوسیالیستي انقلاب

له هغه انقلاب څخه عبارت دی، چې د پانګوالي نظام پر وړاندې تر سره کيږي او د کمونیزم لومړۍ مرحله (سوسیالیستي ټولنه) منځ ته راوړي او د انقلاب په دویمه مرحله کې په بې‌طبقو ټولنې (کمونیستي ټولنه) باندې اوړي.

انقلاب په سوله‌ایزه او قهرجنه توګه تر سره کيږي او هر هغه څوک چې د انقلاب سوله‌ایزه بڼه مطلقه کوي، ښي ریویژنیستان او هغوی چې یوازې قهرجنه بڼه مطلقه کوي، کیڼ ریویژنیستان بلل کیږي، خو علمي کمونیستان له خپلو شرایطو سره سم د انقلاب دواړې بڼې په نظر کې نیسي او هیڅ یو شکل نه مطلقوي.

## د بورژوازي او پرولتري انقلاب تر منځ توپیر

د زیارکښانو څلورم رهبر ژ. ستالین «د لنینیزم مسایل» نومې خپل اثر په ۱۸۹ مخ کې د پرولتري انقلاب او پرولتري دیکتاتورۍ تر سرلیک لاندې د پرولتري انقلاب او بورژوازي انقلاب تر منځ توپیر په ۵ ځانګړو مادو کې داسې بیانوي، چې:

۱- معمولاً بورژوازي انقلاب هغه وخت پیلیږي، چې د پانګوالي رژیم یوه بڼه په فیوډالي ټولنه کې د علني انقلاب له نفوذه او پیلیدو وړاندې لږ یا ډیره وده کړې وي. په داسې حال کې چې پرولتري انقلاب هله پیلیږي، چې د سوسیالیستي رژیم یوه بڼه هم نه حاضره وي او نه موجوده.

۲- د بورژوازي انقلاب اساسي دنده دا ده، چې حکومت ونیسي او هغه د شته بورژوازي اقتصاد سره عیار کړي؛ په داسې حال کې چې د پرولتري انقلاب اساسي دنده دا ده، چې د حکومت نیولو وروسته نوی سوسیالیستي اقتصاد وغوړوي.

۳- بورژوازي انقلاب د حکومت د تر لاسه کولو سره سم دم پای مومي، مګر د پرولتري انقلاب له پاره د واک نیول د کار پیل دی او له حکومته د زاړه اقتصادي جوړښت نوي کول او د نوي اقتصادي چوکاټ په موخه د هرم په حیث ترې ګټه اخیستل کیږي.

۴- بورژوازي انقلاب د یوه زېښاکګر واکمن څخه بل زېښاکګر ته د حکومت په لاس ور کولو بسنه کوي، نو ځکه د زاړه دولتي ماشین ړنګولو ته اړتیا نه لري، خو پرولتري انقلاب له حکومته هر ډول زېښونکي له مخې لیرې کوي او پر ځای یې د زیارکښانو زېښېدونکې مخکښان؛ یاني پرولتري طبقه راولي.

د زاړه دولتي ماشین له ړنګولو او په نوي دولتي ماشین د هغه د اړولو څخه پرته د دوی کار مخ ته نه ځي.

۵- بورژوازي انقلاب د اوږدې مودې له پاره میلیونونه زیارکښان او زېښېدونکي پرګنې د بورژوازي شاوخوا نه شي را ټولولای، ځکه چې هغوی زیارکښ او زېښېدونکي دي. په داسې حال کې چې پرولتري انقلاب که غواړي خپله اساسي دنده د پرولتري حکومت په ټینګولو او نوي سوسیالیستي اقتصاد په جوړولو کې

تر سره کړي، نو بیا کولای شي، هغوی د پرولتاریا طبقه سره یو کړي، بیا هم په هماغه دلیل، چې هغوی زیارکښ او زیېښېدونکي دي...

## واقعي او غیرواقعي کمونیستان

ژ. ستالین د واقعي او غیرواقعي انقلابي څواکونو د پېژندنې په اړه په خپله وینا کې، چې د و. اي. لنین د پنځوسمې کلیزې په مناسبت یې وکړه، داسې خبرداری ور کوي:

**دوه ډوله مارکسیستان دي؛ دواړه د مارکسیسم تر بیرغ لاندې کار کوي او ځانونه مارکسیستان بولي. دوی به هیڅ ډول سره ورته نه دي؛ یوه رښتنې دره هغوی سره بېلوي، ځکه چې د هغوی د کار لاندې یو د بل سره په بشپړ ډول بېلې دي.**

**لومړی ډله: معمولاً د مارکسیزم په ظاهري او تشریفاتي بڼه قناعت کوي، ځکه دوی نه شي کولای او یا نه غواړي، تر څو د مارکسیزم په جوهر (طبقاتي ماهیت) پوه شي. دوی نه شي کولای او نه غواړي، چې هغه په رښتینې بڼه پلی کړي.**

**دوی د مارکسیزم ژوندي انقلابي اصول په بې‌مانا او بې‌روحه فورمولونو اړوي. دوی خپل کار او کړه وړه په تجربو او هغه څه باندې، چې علمي کار یې ور زده کوي، نه پیلوي؛ بلکې یوازې د مارکس په نقل قول تکیه کوي.**

دوی خپل دستورونه او پایلې د اوسنيو واقعيتونو له څيړنې څخه نه اخلي، بلکې د تاريخي ورته‌والي له پرتلو څخه تر لاسه کوي.

دوهمه ډله: دوی د مارکسيزم ظاهري او تشريفاتي منلو ته اساسي ارزښت نه ور کوي، بلکې په رښتيني او اساسي ډول سره د هغه پلي کول غواړي. دغه ډله پر هغه څه تمرکز کوي، چې هغه د مارکسيزم د علمي تطبيق او تحقق په لارو چارو او طريقو باندې تصميم نيول دي. په داسې ډول سره چې حالاتو او شرايطو ته مثبت ځواب وي. دوی د حالاتو په بدلون سره خپل د تطبيق عملي لارې چارې بدلوي. د دې ډلې په باب د مارکس وينا په بشپړ ډول صدق کوي: فيلسوفان د نړۍ په تفسير قناعت نه شي کولای، بلکې دوی بايد مخ پر وړاندې ولاړ شي او هغه ته بدلون ور کړي...

ستالين زياتوي: دا دوهمه ډله کمونيستان (بلشويکان) دي!!!

# پای